۲۰۱۷/۰۱/۰۵

آصف بهاند

د ښاغلي نورمحمد لاهو د دې پوښتنې په ځواب کې:

«یوځوک شته چې ماته مینه په پور راکړي؟»

# ورکه مینه

دلته د کرکې زړی شین شو
مینه والوتله، لاړه مهاجره شوله
زه هم پښې ییلې تلي
له خپل ګودر، کلي او کوره ځینې
پسې را وتلی یمه
دا دی دا شل پسرلي
په شلو کلو پسې وګرځیدم
د ورکې مینې پته
خوشې له لرې چا را و نه ښووه
هسې مې نښه هم ترسترګو نه شوه
چې مې زهیرې او اوښلنې سترګې
لږ څه را وچې شي بیا
***
مېنه او کلی مې د بل تر ولکې
زما پتکی غاړه کې پروت
او له دردمنې ملامې
یوه ریبنکی را تاو ده
د شعرکچکول مې را ترغاړې ګرځم
د خپلو تورو سترګو خیر مې
له شین سترکوغواړم
بل څوک څه نه را کوي
تنها د خدا پربښتي
د شعرپه مات کچکول کې
د شعرځو وللي توري
کله را وغورځوي
***
خو زما سترګې لټوي آ مروره مینه
پښوکې مې نور وس نه شته
چې په لټون پسې یې
کوم بل تکل وکړمه
دغه وروستی تکی دی
د دنیا پای ته رسیدلی یمه
ښایي لږ وراندې د خدای کلی وي بس
او...
که دې په کار وي کرکه
نو کابل جان ته لاړ شه!
افغانستان ته لاړ شه!



۲۰۱۴/۰۱/۰۲ هیدرسلیف دنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ